# تقوا

څېړنه:

اجرالدين اقبال

# تقوا

ځېړنه:

اجرالدين اقبال

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب نامه: تقوا

څېړنه: اجرالدين اقبال

د چاپ کال او وار: لومړی

تخنيکي چارې: انديال؛ ديني، علمي، فرهنګي او خپرندويه ټولنه www.andyal.com

د «تقوی» لنډه مانا ........................................٦
په شریعت کې د تقوا اهمیت ................................... ٨
د انسان په ژوند کې د تقوا ونډه ............................... ١٠
تر ایمان وړاندې او روسته تقوا ترمنځ توپیر ...................... ١١
د متقیانو د ځانګړنو یا د همّام خطبه .............................١٤
تقوا ............................................................ ١٥
د "تقوا" ویی .................................................. ١٥
له الله تعالی وېره ............................................... ٢٠
د تقوا مانا او حقیقت ........................................... ٢٣
عملي اجبار .................................................... ٢٩
تقوا په نهج البلاغه کې .......................................... ٣٠
تقوا او آزادي .................................................. ٣٥
محدودیت که خوندیتوب؟ ...................................... ٣٧
د تقوا ساتنه.....................................................٤١
د تقوا ارزښت او اغېز...........................................٤٥
تقوا او روغتیا .................................................. ٥٠
د تقوا دوه سترې اغېزې ....................................... ٥٣
تقوا او روڼ ویني ...............................................٥٤
تقوا او عملي حکمت ...........................................٦٠
د عقل د دښمنانو دښمن ........................................٦٤

په روڼ وینې کې د تقوا د اغېزې خوالې ..........................٦٦
ایا هوښ او عقل توپیر لري؟ ..........................................٧٦
تقوا او د احساساتو تلطیف ........................................... ٧٩
تقوا او پر سختیو د بریا ځواک ..................................... ٨٢
دوه ډوله سختۍ او ستونزې............................................. ٨٣

## د «تقوی» لنډه مانا

یو ډول دننني ساتونکی د «تقوا» لنډه مانا ده. که یو انسان ددې دننني ساتونکي درلودونکي نه وي، یو دباندېنی ساتونکی به ورته ګټور نه وي.

ټولې موعظې، يادونې، امر و نهې هله ګټورېږي، چې انسان له دننه امر کوونکی يا نهې کوونکی ولري:

من لم يجعل له من نفسه واعظا، فان مواعظ الناس لن تغنی عنه شيئا[1]

په واقع کې همدا دننني امر ونهې کوونکی دی چې بهرنی حکم مني او انسان ته کار وراسانوي، چې بې له دې استازي، ديني مشران، او بزرګان چې هر څه ووايي، نا اورېدلي او نااغېزمن پاتېږي. د تقوی اغېزې ډېرې او درجې يې بېلابېلې دي. د تقوی مراتب پر الهي احکامو له عملي کولو پيلېږي او تر روستي پړاوه، چې په حقيقت کې الهي قرب دی،

[1] (بحار الانوار:۷۸ټ، ۱۷۳مخ)

غځېږي. په قرآن حکیم کې هم له انسانانو دوه ډوله تقوی غوښتل شوې ده. په یوه ځای کې وایي:

فَاتَّقُوا اللَّهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ[2]

اتَّقُواْ اللّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ[3]

د الهي تقوا د حق پوره کول، د تقوی روستۍ مرتبه ده او تر خپلې وسې وسې تقوا خپلول یې، لومبی مرتبه ده او د دواړو ترمنځ، ډېرې مرتبې او منزلونه دي. له امام صادق روایت شوی: تقوا درې درجې لري: لومبی تقوای بالله؛ د خلافو پرېښوول، چې د شبهاتو له پرېښوولو اوچته ده او دا خاص الخاص تقوا ده. دویمه، له الله تعالی تقوا ده چې د شبهاتو پرېښوول چې د حرامو له پرېښوو اوچته ده او دا خاصه تقوا ده او درېیمه تقوا؛ د عذاب له ډاره تقوا ده، چې د حرامو برېښوول دي او دا د عامو تقوا ده[4].

ورپسې یو ښکلی مثال راغلی دی:

---

[2] (التغابن/١٦)

[3] (آل عمران/١٠٢)

[4] مصباح الشریعه، ٣٨مخ

«تقوا په یو ښار کې د بهېدلو اوبو په څېر ده او دا درې ګونې درجې، د هغو ونو په څېر دي چې د ویالې پرغاړه راټو کېږي. هر ونه د خپلې جرړې او اصل له مخې له ویالې ځانګړې اندازه اوبه روي. . . .؛ نوځکه تقوا د طاعاتو لپاره داسې ده لکه اوبه چې ونو ته وي او د ونو او مېوو طبیعت د رنګ او خوند له اړخ د ایمان له اندازو او کچو سره ورته دی[5]. »

## په شریعت کې د تقوا اهمیت

انسان د شریعت له ونې، د تقوا مېوه وانېي او دا یوه خوږه او خوندوره مېوه ده، چې له دې ونې یې وانولای شو او د الله تعالی پر وړاندې عزتمنېدل خو خورا خواږه او خوندور دي. د الله تعالی پر وړاندې د انسان عزتمنېدل د تقوا په مرتبې پورې یې اړه لري:

---

[5] مصباح الشریعه، ۳۸ مخ، مؤسسه الاعلمي للمطبوعات، بېروت

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اتَّقُواْ اللّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ[٦] «هغوی د الله تعالی پر وړاندې خورا شریف او عزتمن دي، چې د تقوا اوچته مرتبه ولري».

او په دې چار کې نارینه او ښځینه کوم توپیر نه لري.

أَنِّي لاَ أُضِيعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِّنكُم مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَى[٧] « الله تعالی به د هر کړونکي کړنه ضایع (او بې ځایه) نه کړي، که نارینه وي یا ښځینه».

د اسلام په شریعت کې، چې د نر و ښځې، کوشني او غټ، رنځور او روغ ترمنځ په حقوقو یا مکلفیتونو کې چې کوم توپیر شته، د الله تعالی پر وړاندې په عزتمېندو او ارزښتمنېدو کې د تبعیض پر مانا نه دی. کوم کړه وړه یې چې له ښځېنه غوښتي د ښځېنه د تقرب او ورنژدېوالي لامل او کو مې کړنې یې چې له نارینه غوښتي د نارینه د ورنژدېوالي لامل دی.

څوک چې ډېره تقوا لري، الله تعالی ته ښه ورگران دی او څوک چې ښه بې تقوا وي، ښه خوار دی.

---

[٦] (حجرات، ١٣)

[٧] (آل عمران، ١٩٥)

د الله تعالی پر وړاندې انسان، د تقوا په تله، تلل کېږي، نه په انساني جوړ کړای شویو کچوه.

## د انسان په ژوند کې د تقوا ونډه

تقوا، انسان ته بصیرت (لیدانه)، مړانه او همېشنۍ حقپالي ورکوي.
متقي، هغه دی چې هم د مصایبو او کړاوونو پر وړاندې ثابت او زغمناک دی او هم د اندېزو شکونو او شبهاتو پر وړاندې. ځان د ژوند په ستونزو کې نه بایلي او په پوره مړانه ورسره مخ کېږي. د باطلو د تپو تیارو د وسوسو پر وړاندې یې یوه رڼا، لارې ته ورسېخوي. دا دنیوي لیدانه یې په آخرت کې هم ورسره مل وي.
انسان چې څه له دنیا څنې آخرت ته ور وړي، هلته ورسره وي او په دې دنیا کې یې چې د «رڼا» یا «تیارې» کومه پانګه ترلاسه کړې وي، یو ځانګړی برخلیک به ولري؛ یا به روند راپاڅي:

وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَى [8]
او يا نوراني:
يَسْعَى نُورُهُم بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَبِأَيْمَانِهِم [9]

## تر ایمان وړاندې او روسته تقوا ترمنځ توپیر

**تقوا دوه پړاوونه لري:**

تر دیني ایمان وړاندې تقوا او ترې راروسته. تر ایمان وړاندې تقوا، د ضمیر پاکي او صفایي ده؛ داسې چې انسان د حق پیغام منلو ته چمتو کوي او تر ایمان راروسته تقوا، پر الهي شرایعو د عمل ببره او محصول دی. د الله تعالی او رسول د خبرو اغېزمنېدو ته، رومبی باید حق پېژاندی او حق منونکی زړه ولرو.

او دا ددې آیت مفهوم دی چې وایي قرآن عظیم الشأن « هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ » دی؛ یعنې د متقیانو په کاربړي.

[8] (طه، ۱۲۴)

[9] (الحدید، ۱۲)

دا تقوا، پر ایمان وروړومبی ده، نه ترې راروسته؛ ځکه نامتقیانو د حق بلنه اورېده؛ خو رغنده ترې نه اغېزمنېدل او اپوټه یې کفر او سرغاړي ډېرېده:

وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيراً مِّنْهُم مَّا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ طُغْيَانًا وَكُفْرًا فَلاَ تَأْسَ عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ[10] = خو څه چې ستا د پالونکي له لوري درنازل شوي (نه یوازې داچې د هغوی د راوېښولو لامل نه گرځي؛ بلکې) د هغوی د ډېرو سرغړونه او کفر زیاتوي؛ نو پر خدای ناپېژاندو مه غمجنېږه.

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُواْ سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ أَأَنذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنذِرْهُمْ لاَ يُؤْمِنُونَ[11] = په حقیقت کې څوك چې كافران شوي دي، هغوی ته بې توپيره ده، چې كه (له الهي عذابه) یې وویروې یا و نه ویروې؛ ایمان نه راوړي.

وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاء وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ وَلاَ يَزِيدُ الظَّالِمِينَ إَلاَّ خَسَارًا[12] = او څه چې له قرآن عظیم الشأنه نازلوو،

---

[10] (مایده/٦٨)

[11] (بقره/٦)

[12] (اسراء/٨٢)

مؤمنانو ته (د زړه) درمل او (الهي) لورونه ده او ظالمانو ته بې له تاوانه (بل څه) نه ورزياتوي.

کافران د حق خبرې اورېدو غوږونه نلري، او حق پکې اغېزمنېدای نشي او ان ظالمان له حق خبرې زيانمېږي او ګټه ترې نشی کړای. دا يو ډېر مهم ټکی دی او په ديني پوهاوي کې پاملرنه ورته شوې، چې کله د انبياوو او صالحينو پيغام پر يو شمېر خلک اغېز نه کوي او بلکې اپوټه اغېز لري، نو پايله اخلو چې خلکو ته د ديني پوهاويو د رسولو لپاره ړومبی بايد په دوی کې يې د ورمنلو لاره چاره برابره کړو؛ ځکه تل داسې نه ده، چې ته چاته د حق خبره کوې او دا به يې درسره مني، کله خبره اپوټېږي او سرغاړی يې زياتېږي؛ نو تر ايمان وړاندې د تقوا چمتوکونه د تبليغ يو شرط او د مبلغينو وظيفه ده.

## د همام خطبه د تقوا دواړه پړاوونه رانغاړي

راروسته چې د همام پر خطبه بوختېږو، تر ايمان وړاندې روسته دواړه تقواوې تر غور لاندې نيسي او ديني او انساني

اوچت پوهاوي رانغاړي او د علی کرم الله وجهه له ښکلو او حکیمانه مواریثو ګڼل کیږي.

## د متقیانو د ځانګړنو یا د همّام خطبه

په همام مشهوره خطبه په تاریخي او حدیثي کتابونو کې کله په لنډو او کله په اوږدو روایت شوې ده. د نهج البلاغې تر راټولېدو وړاندې، شیخ صدوق په امالي (۳۴۰مخ) کې او ابن شعبه حراني په تحف العقول (۱۵۹مخ) کې دا خطبه راوړې ده. د شریف رضي په سرچینې سم نه پوهېږم؛ خو احتمال ورکوم چې په خپل کتاب کې یې خورا ځرګند ضبطونه راوړي دي او موږ د همدې ضبط پر شرح لګیا کیږو.

## تقوا

((أَفَمَنْ أَسَّسَ بُنْيَانَهُ عَلَى تَقْوَى مِنَ اللّهِ وَرِضْوَانٍ خَيْرٌ أَم مَّنْ أَسَّسَ بُنْيَانَهُ عَلَىَ شَفَا جُرُفٍ هَارٍ فَانْهَارَ بِهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ وَاللّهُ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ[١٣]=او ايا هغه غوره دی، چې د خپلې ودانۍ بنسټ يې پر الهي تقوی او د هغه د خوښۍ لپاره ايښی وي، که هغه چې خپله ودانۍ يې د يوه پاڼ پرغاړه جوړه کړې وي، چې ورسره يوځای په جهنم کې وغورځېږي؟ او الله تعالی ظالمانو ته سمه لار نه ښيي.))

## د "تقوا" ويی

تقوا يوه عامه ديني اصطلاح ده، چې په قرآن کريم کې اسمي او فعلي بڼه زياته راغلې ده. تقريبا هومره چې د "ايمان" او "عمل" نوم راوړل شوی او لمونځ او زکات راغلی او ان تر روژې يې زيات نوم راوړل شوی دی.

[١٣] (توبه/١٠٩)

په نهج البلاغه کې هم پر "تقوا" خورا ډېره شوې ده. په نهج البلاغه کې د "متقین" په نامه یوه اوږده خطبه هم ده او دا خطبه حضرت علي (کرم الله وجهه) د هغه سړي په ځواب کې ویلې وه، چې د متقیانو انځور یې غوښتی و؛ په پیل امام یوازې پر څو غونډلو-جملو بسیا وکړه؛ خو دا سړی (همام بن شریح)، چې بااستعداده و، قانع نه شو او په خپله غوښتنه یې ټینګار وکړ. امام هم خوله راوسپړله او تر سلو زیاتې د متقیانو اندیزې، اخلاقي او عملي ځانګړنې یې ورته وویلې.

مراد دادی، چې دا ویی خور دود شوی دیني ویی دی او په عوامو کې هم دا ویی خورا کارېږي.

دا ویی د "وقی" له مادې دی، چې د ساتلو، خوندیینې او نګهدارۍ په مانا دی. د "اتقاء" مانا "احتفاظ"دی؛ خو تر اوسه لیدل شوي نه دي، چې په پارسي کې یې دا ویی په "حفظ" او "نګهداري"ژباړلی وي. که په پارسي ژباړو کې دا

ویی په اسمي بڼه وکارول شي؛ لکه پخپله "تقوا" او یا "متقین"، چې په "پرهېزگاري"ژباړل کېږي. د بېلګې په توګه: ((هدی للمتقین)) داسې ژباړي: ښیون- هدایت دی پرهېزګارانو ته او که په فعلي بڼه وکارول شي؛ په تېره که د امر فعل وي او اړوند او "متعلق" یې هم یاد شي؛ نو د وېرې او ډار په مانا دی. د بېلګې په توګه: د ((اتقوا الله)) یا ((اتقوا النار)) په ژباړه کې ویل کېږي: له خدایه وډارېږئ یا له اوره وډارېږئ.

البته تر اوسه لا چا ادعا نه ده کړې، چې "تقوا" د "پرهېز"، "وېرې" یا "ژغورنې" په مانا ده؛ بلکې داچې لیدل شوي، چې پخپله د یو څیز د ساتنې غوښتنه داده، چې له یو څه پرهېز وشي او پرېښوول شي، همداراز غالبا ساتنه او د نفس ساتنه له هغو چارو د وېرې ملازمې چارې دي؛ داسې انګېرل شوي،

چې دا ماده مجازا په ځینو ځایو کې د پرهېز او په ځینو ځایو کې د وېرې او ډار په مانا کارول شوې ده.

البته هېڅ خنډ هم نشته، چې دا ټکی مجازا د پرهېز او د وېرې په مانا وکارول شي؛ خو بلخوا موجب او دلیل هم نشته، چې تایید کړي، چې له دې ټکي مراد یوه مجازي مانا ده؛ د بېلګې په توګه پرهېز یا وېره وي. څه دلیل شته، چې ووایو د ((اتقوا الله)) مانا داده، چې له خدایه وډارېږئ او د ((اتقوا النار)) مانا داده، چې له اوره وډار شئ؟؛ بلکې ددې ډول غونډلو مانا داده، چې ځانونه د اور له خطره وژغورئ او یا ځان د الهي کړاوو له خطره وژغورئ؛ نو پردې بنسټ د "تقو" د ټکي سمه مانا "ځان ساتنه=ځان ژغورنه" ده، چې هماغه د نفس ساتنه ده او متقین؛ یعنې ځان ساتي.

"راغب" د قرآن عظیم الشان د مفرداتو په کتاب کې وایي: وقایه، د یو څیز ساتنه ده، له هر څیزه چې ورته زیان رسوي

او تقوا؛ یعنې له هغه څه نفس په وقایه کې کول، چې ترې ویره کیږي، د مطلب څیړنه دا ده، چې موږ کله د سبب په اړه د مسبب او د مسبب په اړه د سبب د ټکي د کارونې د قاعدې له مخې، ویره د تقوا پر ځای او تقوا د ویرې پر ځای کاروو. تقوا په شرع کې؛ یعنې څه چې انسان ګناه ته راکاږي؛ نو ترې د نفس ساتنه ده، چې محرمات او ممنوعات پرېږدي.

راغب په څرګنده وایي: تقوا؛ یعنې ځان خوندي ساتل او وایي، چې د ویرې پر ځای د تقوا د ویی –کلمې کارول مجاز دي او البته نه یې څرګندوي، چې د((اتقوا الله)) په مثال کې موخه مجازي مانا ده او لکه چې مې وویل: دلیل نشته، چې تایید کړي په دا شان غونډلو- جملو کې مجازي کارول شوې وي.

څه چې هېښنده برېښي، ددې ویی – کلمې پارسي ژباړه ((پرهېزګاري)) ده. نه دي لیدل شوي، چې یو لغتوال دې هم

مدعي شوی وي، چې دا و يې- کلمه دې په دې مانا کارول شوي وي؛ لکه چې و مو ليدل، راغب ددې ويی- کلمې کارونه د وېرې په مانا يې نوم اخلي؛ خو د پرهېز په مانا يې دا ويی- کلمه نه ده کارولې. معلومه نه ده، چې له کوم ځايه او په کوم دليل په پارسي ژباړو، کې دا ويی- کلمه پر پرهېزگارۍ ژباړل شوې ده؟! گومان کوم يوازې پارسيوانان دي، چې له دې ويی- کلمې د پرهېز او ډډې مفهوم درک کوي. اړنگ – شک نشته، چې په عمل کې د تقوا او د يو څيز پر وړاندې د نفس د خونديينې- صيانت لازمه له هماغه څيزه ډډه او پرېښوول يې دي؛ خو نه داچې د تقوا مانا هماغه ډډه او پرېښوونه وي.

## له الله تعالی وېره

داچې له الله تعالی د وېرې خبره راغله، دا ټکی وايم، چې ممکن ځينو ته دا پوښتنه رامنځ ته شي، چې له الله تعالی وېره څه ته وايي؟ مگر الله تعالی وېرونکی څيز دی؟ الله تعالی،

مطلق کمال دی او خورا ارزښتمنه موضوع ده، چې انسان مینه ورسره وکړي؛ نو ولې انسان، له الله تعالی وېرېږي؟

په ځواب کې یې وایم، چې مطلب همداسې دی. د الله تعالی ذات د وېرې او ډار لامل نه دی؛ خو داچې وایي: باید له الله تعالی وېرېږو؛ یعنې باید د الله تعالی د عدل له قانونه ووېرېږو. په دعا کې راغلي: ((یا من لا یرجی الا فضله او لا یخاف الا عدله)) ای هغه چې هیلمني ورته د فضل او احسان هیلمني یې ده او وېره یې د عدالت له وېرې ده.

((جللت ان یخاف منک الا العدل و ان یرجی منک الا الاحسان و الفضل))؛ یعنې ته ډېر سپېڅلی یې چې له تا وېره وي؛ خو بې له عدالته دي او داچې له تا بې له نېکۍ او ښېګڼې بله هیله نشته.

عدالت هم په خپل ځای کې وېرونکی نه دی، انسان، چې له عدالته وېرېږي، په حقیقت کې له ځانه وېرېږي، چې پخوا

يې تېروتنه کړې او يا وېرېږي، چې په راتلونکي کې نور تېرى پرې و نه کړي؛ نو د خوف او رجاء په مسله کې بايد مؤمن تل هم هيلمن وي او هم په وېره کې، هم دې ښوينى - خوشبين وي او هم خپه. موخه دا ده، چې مؤمن بايد تل د "اماره نفس" د سرغړانديو او سرکښو لېوالتياوو پر وړاندې په وېره کې وي، چې له عقل او ايمانه يې واګې وانخلي او الله تعالى ته بايد هيلمن وي او تل ترې مرسته وغواړي.

"امام سجاد" په "ابوحمزه" دعا کې وايي:

((چې تېروتنو ته مې پامېږي؛ نو وېره راباندې راځي او چې لورنې ته دې وګورم؛ نو هيلمنېږم.))

## د تقوا مانا او حقیقت

څه چې د تقوا د ویی- کلمې په هکله وویل شول؛ نو تر څه بریده ترې د اسلام له نظره د تقوا پر حقیقت او مانا پوهېدای شو؛ خو اړین دي، په دیني او اسلامي آثارو کې ددې ویی – کلمې کارونې ته زیاته پاملرنه وشي، چې روښانه شي، تقوا څه ته وایي. دلته یوه سریزه وایم.

انسان که وغواړي، په ژوند کې اصول ولري او له هغو آرونو پلوي وکړي، که دا اصول له دین او مذهبه اخستل شوي وي یا هم له بلې سرچینې؛ نو بېزاه- ناچار دی، چې معلوم دریځ ولري او ګډوډي یې پر چارو واکمنه نه وي. د معلوم دریځ، د مسلکوالي، مرام او ګروهې درلودو لازمه ده، چې د یوې موخې پر لوري حرکت وکړي او له هغو چارو ځان وساتي، چې له نږدې- اني ځاني غوښتنو سره یې همغاړی- موافق وي؛ خو له ټاکلې موخې او آرونو سره یې په ټکر کې نه وي.

نو د عامې ويی – کلمې په مانا، تقوا د هر وګړي د ژوند لازمه ده، چې غواړي انسان ووسي او د عقل په حکم ژوند وکړي او له څرګندو آرونو لاروي وکړي.

ديني تقوا؛ يعنې له ګناهونو ځان ساتل، دين چې ژوند ته کوم قانون ټاکلی، هماغه په پام کې نيول او له قانوني پولو نه اوړېدل او له ښکاره بديو ځان ساتل، چې همدې ته "تقوا" وايي او کېدای شي موږ دوه ډوله تقوا لرو: کمزورې تقوا او ځواکمنه تقوا.

لومړی ډول: داچې انسان ځان د ګناه له چټليو وساتي؛ نو له موجباتو يې تښتي او تل ځان د ګناه له چاپېرياله لرې ساتي، داسې کس دې ته ورته دی، چې د "حفظ الصحې" لپاره هڅه کوي، د مرض او مېکروب له چاپېرياله او د رنځ د لېږد له موجباتو ځان لرې وساتي، د ساري په ډول: هڅه کوي د

"نري رنځ" چاپېريال ته نږدې نشي او يا له هغو سره روغبړ و نه کړي، چې پردې رنځ اخته دي.

دويم ډول: پخپله اروا کې داسې حالت او ځواک رامنځ ته کوي، چې ورته اروايیزه او اخلاقي خونديينه ورکوي او که فرضا يو چاپېريال ته هم ورشي او د گناه وزلې هم پکې وي؛ نو دا حالت او اروايیزه ملکه يې خوندي ساتي او ددې خنډېږي، چې پر گناه ککړ شي؛ دا هغه چا ته ورته دی، چې پر ځينو وزلو يې په بدن کې طبي خونديينه رامنځ ته کړې وي، چې د پلاني رنځ مېکروب پرې اغيز و نه کړي.

زموږ په وخت کې عام خلک، چې له تقوا کومه انگېرنه لري؛ نو هماغه لومړی ډول يې دی. که وويل شي، چې پلانی باتقوا دی؛ يعنې محتاط – احتياط کوونکی دی، گوښې ته شوی او ځان يې د گناه له موجباتو لرې ساتلی دی. دا هماغه کمزورې ډول تقوا ده.

ښايي ددې انګېرنې د پيدا کېدو لامل دا وي، چې له پيله يې تقوا راته "پرهېزګاري" او "ډډه کول" ژباړلې او سوکه سوکه له ګناه ګوښواله- ډډه د ګناه له چاپېريال او موجباتو د ګوښوالۍ پر مانا پټېيل شوی او تردې ځايه رارسېدلې، چې د تقوا ويی- کلمه په عام نظر کې د ډډې او له ټولنې د لرېوالي مانا ورکړي. په عمومي ګړدود کې، چې کله مو دا ويی – کلمه تر غوږه شي؛ نو يو ډول ځانلواله - ګوښواله، ډډه او پر شا تګ مو په نظرونو کې انځورېږي.

مخکې مې هم وويل، داچې انسان عقلي او انساني ژوند ولري؛ نو لازمه يې دا ده، چې د څرګندو آرونو تابع وي لازمه يې دا ده، له هغوچارو ډډه کول دي، چې له ځاني غوښتنو سره يې همغاړې- موافقې وي؛ خو له موخې او د ژوند له آرونو سره يې په ټکر کې نه وي. ددې ټولو لازمه دا نه ده، چې انسان دې له چاپېريال او ټولنې ډډه او ګوښوالي وکړي - خورا غوره او ستره لار -، چې له ديني اثارو به ورته لاسوند-

شاهد هم راوړم- دا ده، چې انسان پخپله اروا کې ملکه، حالت او داسې خوندېینه رامنځ ته کړي، چې همدا حالت یې ساتندوی وي. اتفاقا په منظمو ادبیاتو کې داسې ښوونې لیدل کیږي، چې تقوا هماغه لومړی ډول ښیي؛ یعنې کمزوري او بېوسي.

شیخ سعدي په گلستان کې وایي:

بدیدم عابدي در کوهساري قناعــت کرده از دنیا بــه غـــاري

چرا گفتم به شره اندر نیـایی کـــه بـــــاری بـــند از دل بگشـایي

بگفت انجا پریرویان نغـزند چـو گِـل بـسیار شد پیلان بلغزند

دا هماغه لومړی ډول تقوا او د نفس خوندېینه ده، چې په عین حال کې کمزوري او ناغېړي ده. داچې انسان له ښوینده چاپېریاله لرې شي او ښو یې نشي؛ نو دا کوم هنر نه دی، هنر په دې کې دی، چې په ښوینده چاپېریال کې ځان له ښویېدنې وساتې.

بابا طاهر وایي:

ز دست دیده و دل هر دو فریاد   هر انچه دیده بـیند دل
کند یاد

بسازم خنجری نیـشش ز فـولاد   زنـم بـر دیـده تـا دل
گــردد آزاد

اړنگ – شک نشته چېرې، چې سترګې ځي، زړه هم ورپسې ځي؛ خو ایا چاره دا ده، چې سترګه ړنده کړو؟ یا داچې بله غوره لار هم شته او هغه داچې په زړه کې داسې ځواک

رامنځ ته کړو، چې سترګه ونشي کړای، زړه ځان پسې راکاږي. که داسې وي، چې له سترګې د زړه آزادۍ ته یوه توره جوړه کړو، چې نوکه یې د پولادو وي؛ نو یو بله توره باید غوږ ته هم جوړه کړو؛ ځکه څه چې غوږ اوري؛ نو زړه یې یادوي او ذایقه او لامسه او شامه هم همداسې ده.

## عملي اجبار

په اخلاقي کتابونو کې کله د یوې داسې ډلې یادونه هم کېږي، داچې ډېرې خبرې و نه کړي یا بې ځایه یا حرامې خبرې و نه کړي؛ نو په خوله کې به یې شنګېږ اچاوه، چې خبرې ونشي کړای؛ یعنې ځان ته به یې عملي اجبار جوړاوه. معمولا لیدل کېږي، چې دا کړنلار د تقوا د بشپړې بېلګې په نامه یادېږي؛ حال دا له ګناه څخه ډډې کولو ته عملي اجبار رامنځ ته کول او بیا له ګناه لرېوالی خو کوم کمال نه شمېرل کېږي. که د داسې کار توفیق مو تر لاسه کړ او له دې لارې

پر گناه ککړ نشو؛ البته له گناه مو ډډه کړې؛ خو نفس مو لا تر اوسه هم هماغه ښامار دی؛ لکه چې و. یوازې له بې وزلې یا یې بې اوزارۍ خپه دی. هله کمال شمېرل کېږي، چې انسان بې له عملي اجباره او د کار د اوزارو پر درلودو پر گناه ککړ نشي. که دا شان ډډې او گوښوالۍ کمال وگڼل شي؛ نو د تقوا د ملکې راپیدا کېدو ته د سریزې بڼه درلودای شي؛ ځکه د تقوا ملکه تر یو لړ منفي کړاوونو روسته راپیدا کېږي؛ خو د تقوا حقیقت غیر له دې چارو دی. د تقوا حقیقت هماغه د پیاوړې، سپېڅلې او سترې اروا درلودل دي، چې خپله د انسان ساتونکې ده. باید هڅه وشي، هغه مانا او حقیقت پیدا شي.

## تقوا په نهج البلاغه کې

په نهج البلاغه کې د تقوا پر و یې- کلمې خورا ډډه شوې، په ټولو ځایونو کې تقوا د هماغې سپېڅلې ملکې پر مانا کارول

شوي، چې په اروا کې راپیدا کېږي او ورته پیاوړتیا او واک ورکوي او اماره نفس او سرکښې ننګېرنې- احساسات اېلوي.

حضرت علي (کرم الله وجهه) وایي:

د الله تعالی تقوا، د الله تعالی دوستان تر خپل ملاتړ لاندې راولي او د الهي چاپېریال پر پولو له تېري یې ساتي او د الله تعالی وېره یې د زړونو مل کړې، تردې چې د شپې یې ویښ ساتي او د ورځې تږي وي؛ لکه ( د روژې تنده).[14]

په دې غونډلو- جملو کې یې په څرګنده تقوا پر هماغه مانیزه او روحاني حالت مانا کړې، چې له ګناه ساتونکې ده او له الله تعالی وېره یې د تقوا له اثارو ویلې. له همدې ځایه پوهېدای شو، چې تقوا د وېرې په مانا نه ده؛ بلکې د تقوا له

[14] وګ: نهج البلاغه /۱۱۲ خطبه

اثارو ځنې یو دا دي، چې د الله تعالی وېره يې د زړونو مل ګرځولې ده.

حضرت علي: ((خپله ذمه د خپل وینا په ګرو کې بږدم او د خپلې وینا د صحت ضمانت کوم. که تېر شوي عبرتونه راتلونکي شخص ته هنداره شي؛ نو په شوپیاناکو- شبهه ناکو چارو کې له غورځېدو به يې وژغوري. د خلافکارۍ او واکې ځانې غوښتنو ته په لاس ورکول هغه سرغړاندي اس ته ورته دي، چې پړی يې شلولی وي، پرې د سور کس له لاسه يې واګې وتلې وي او په پایله کې به يې په اور کې ورګوزار کړي او د تقوا مثال د هغو اېلو سورلیو په شان دی، چې واګې يې پرې د سور کس په لاس کې دي او جنت ته يې ننباسي.[15]))

دلته په پوره څرګندونې، تقوا يې اروایز او مانیز حالت تعبیر کړی، چې موږ يې د ځان ټینګۍ – ضبط نفس او د نفس

[15] نهج البلاغه (۱۱٦خطبه)

مالکیت تعبیروو. دلته په ترڅ کې ستر حقیقت بیان شوی او هغه داچې ځاني غوښتنو ته ایلېدل او سرغړاندي نفس ته د واګې د سپارنې لازمه کمزوري او بې شخصیتتوب دی. انسان په دې حالت کې د خپل کابو کونې پر وړاندې د هغه کمزوري په شان دی، چې پر اس سور دی او د اس واګې یې په لاس کې نه دي. د تقوا او د ځان ټینګې- ضبط نفس لازمه د ارادې د واک زیاتوالی او د مانیز او عقلي شخصیت درلودل دي؛ لکه هغه سور، چې پر روزل شوي اس سور وي او پر واک ورته حکم کوي او اس یې هم مني.

هغه چې د ځاني غوښتنو، شهوت، مقام، ځانمنی، حرص او تمې پر اس سور وي او اډانه یې همدا چارې وي؛ نو واک یې له لاسه اخستل شوي او دې چارو ته سپارل شوی دی او لکه د لېونو په دې چارو پسې منډې وهي او عقل او سازښت- مصلحت پرې واکمن نه دی؛ خو هغه چې موخه یې تقوا ده

او د ځان ټینګی- ضبط نفس پر سورلۍ سور وي؛ نو واګې یې پخپل لاس کې وي او هر خوا پرې تلای شي.

حضرت علي (کرم الله وجهه) وایي: ((تقوا په نړۍ کې انسان ته د یو کلا او د یو ډال په شان ده او په اخرت کې به یې د جنت لار وي.[16]))

په نهج البلاغه کې دا شان تعبیرونه ډېر دي او دلته یوازې بېلګې ته وویل شول، چې د اسلام له نظره د تقوا واقعي او حقیقي مانا وپېژندل شي او جوته شي، چې څوک ددې وړ دی، چې ورته "متقي" وویل شي. جوته شوه، چې تقوا په انسان کې اروایز حالت دی، چې اروا ته د کلا، دفاعي وسلې او اېل شوي اس بڼه لري او لنډه داچې مانیز او اروایز ځواک دی.

[16] وګ: نهج البلاغه/۱۸۹ خطبه.

## تقوا او آزادي

و مو ویل: داچې انسان د څارویتوب له ژونده راووځي او انساني ژوند ته مخه کړي؛ نو باید له معلو مو آرونو لاروي وکړي چې لازمه يې داده، چې ځان د هماغه آرونو په چوکاټ کې محدود کړي او تېری ترې و نه کړي او له کومه ځایه، چې نژدې-اني ځانې غوښتنې يې لمسوي، چې له دې پولو تېری وکړي؛ نو باید "ځان ساتنه" وکړي. دې ځان ساتنې ته تقوا ویل کېږي، چې ځینې چارو ته باید شا کړي. دا باید و نه انګېرو، چې تقوا د دینوالۍ له ځانګړنو ده؛ لکه لمونځ او روژه؛ بلکې تقوا د انسانیت لازمه ده. که انسان غواړي له څارویتوب او ځنګلي ژونددوده راووځي؛ نو ناچار دی تقوا ولري.

نن وينو، چې ټولنيزه او سياسي تقوا يې څرگندنه- اصطلاح کړې ده. څه چې دي، ديني تقوا، غوره والی، سپېڅلتيا او بل ډول ټينگښت لري او په حقيقت کې يوازې د دين پر بنسټ دی، چې کړای شو، ټينگه او با بنسټه تقوا رامنځ ته کړو او پر الله تعالی له مزبوت ايمان پرته، بنسټيز، مزبوت او د ډاډ وړ سټه نشو رامنځ ته کولای.

((أَفَمَنْ أَسَّسَ بُنْيَانَهُ عَلَى تَقْوَى مِنَ اللّهِ وَرِضْوَانٍ خَيْرٌ أَم مَّنْ أَسَّسَ بُنْيَانَهُ عَلَىَ شَفَا جُرُفٍ هَارٍ فَانْهَارَ بِهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ وَاللّهُ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ[17] = او ايا هغه غوره دی، چې د خپلې ودانۍ بنسټ يې پر الهي تقوی او د هغه د خوښۍ لپاره ايښی وي، که هغه چې خپله ودانۍ يې د يوه پاڼ پرغاړه جوړه کړې وي، چې ورسره يوځای په جهنم کې وغورځېږي؟ او الله تعالی ظالمانو ته سمه لار نه ښيي.))

---

[17] (توبه/۱۰۹)

په هر حال الهي تقوا له انسانیت سره مله ده او دا چار پخپله د ځینو څیزونو شا ته پرېښوول غواړي او له ځینو به ډډه کوي.

داچې د دیني مشرانو په ویناوو کې تقوا د حصار - کلا او "حصن" په مانا تعبیر شوې، ممکن هغه کسان، چې د آزادۍ له نوم سره روږد دي او له ټولو هغو څیزونو تښتي، چې د محدودیت بوی ترې راځي، ښایي وانګېري، چې تقوا هم د آزادۍ له دښمنانو څنې یوه ده او د بشر په پښو کې یو ډول زولنې دي.

## محدودیت که خوندیتوب؟

دا ټکی باید راوڅېړم، چې تقوا محدودیت نه؛ بلکې خوندیتوب دی او محدودیت او خوندیتوب –مصونیت سره توپیر لري. که د محدودیت نوم هم پرې کېږدو؛ نو هغه محدودیت دی، چې کټ مټ خوندیتوب دی.

ځو مثالونه يې دا دي: بشر کور جوړوي، خونه جوړوي او پکې کړکۍ او دروازې هم بردي او له کوره "گرددېوالي" هم جوړوي. ولې دا کارونه کوي؟ ځکه د ژمي له يخنۍ او د دوبي له گرمۍ خوندي وي؛ ځکه دا کار کوي، چې د ژوند وزلې يې په خوندي ځای کې وي او اختيار يې يوازې له ځان سره وي. خپل ژوند محدودي او دا وزلې په ټاکلې څلوردېوالۍ کې بردي. اوس دې ته د څه نوم ورکړو؟ ايا کور انسان ته محدوديت دی او له ازادۍ او خونديتوب سره يې په ټکر کې دی؟ جامې همداسې دي.

انسان څپلۍ پر پښو کوي، خولۍ او جامې اغوندي، چې البته پر همدې جامو او څپليو د يخنۍ او گرمۍ مخه نيسي او د خپل پاکوالي پام هم ساتي، اوس دې ته د څه نوم ورکړو؟

ايا پردې ټولو د زندان نوم ايښوولای شو او خواشيني شو، چې پښې په څپليو کې، سر په خولۍ او تن په جامو کې

زنداني شوي، چې ترې د آزادۍ په هيله کې دي؟ ايا ويلای شو، چې کور درلودل محدوديت دی او له آزادۍ سره په ټکر کې دی؟!

تقوا هم اروا ته داسې ده؛ لکه ژوند ته چې کور وي او تن ته، چې جامې وي. اتفاقا په قرآن عظيم الشان کې تقوا پر جامو تعبير شوې ده: ((وَلِبَاسُ التَّقْوَىَ ذَلِكَ خَيرٌ[18]= خو د پرهېزګارۍ جامې غوره دي.))

هغه وخت پر يو څيز د محدوديت نوم ايښوولای شو، چې انسان له نېکمرغۍ بې برخې کړي؛ خو څه چې له انسانه خطر لرې کوي او له ګواښونو يې خوندي ساتي؛ نو دا خونديتوب دی؛ نه محدوديت او تقوا داسې يو څيز دی. د مصونيت

[18] (اعراف/۲۶)

تعبير د حضرت علي (کرم الله وجهه) دی، چې وايي: ((تقوا وساتئ او په تقوا ځان ته خونديينه جوړه کړئ.[19]))

حضرت علي (کرم الله وجهه) تردې لوړ تعبيرونه هم لري، چې نه يوازې تقوا، محدوديت او د آزادۍ خنډ نه ګڼي؛ بلکې الهي تقوا د آزادۍ ستر لامل بولي، وايي: ((تقوا د سموالي کونجي او د قيامت د ورځې زېرمه ده، له هر قيده آزادي ده او له هرې بدمرغۍ ژغورنه ده. په تقوا انسان خپلې موخې ته رسي او له دښمنه ژغورل کيږي او خپلو هيلو ته رسي.[20]))

تقوا په لومړۍ درجه کې نېغ په نېغه له اخلاقي او مانيز اړخه انسان ته ازادي ورکوي او د ځاني غوښتنو له بنده يې آزادوي، د حرص، تمې، حسد، شهوت او غوسې جغ يې له

---

[19] وګ: نهج البلاغه/ ۱۸۹ خطبه.

[20] وګ: نهج البلاغه/ ۲۲۸ خطبه.

ورمیږه راښکته کوي؛ خو په غیر مستقیم ډول په ټولنیز ژوند کې هم انسان ته آزادي وربښي. ټولنیزې بندګۍ او مریيتوب د مانیزې بندګۍ پایله ده. څوک چې د پیسو یا مقام بنده وي؛ نو له ټولنیز اړخه آزاد ژوند نشي کړای؛ نو دا به سمه وي، چې ووایو ((عتق من کل ملکةٍ))؛ یعنې تقوا، انسان ته هر ډول آزادي ورکوي؛ نو تقوا نه یوازې محدودیت او قید نه دی؛ بلکې آزادي ده.

**د تقوا ساتنه**

څه چې د تقوا په هکله وویل شول، چې "ساتونکی" او "خوندي چاپېریال" دی، ممکن د ځینو د پسمنۍ – غرور او غفلت لامل شي او وانګېري، چې متقي له ګناه سپین لمنی – معصوم دی او د تقوا څپڅپاندي او ستړه ایستونکیو خطراتو ته پاملرنه و نه کړي؛ خو حقیقت دا دی، چې تقوا که هومره

هم ستره وي؛ نو پخپل ځای کې خطرونه لري. سړی په عین حال کې، چې د تقوا په ملاتړ او حراست کې باید ژوند وکړي، خپله هم باید د تقوا ساتونکی وي او دا په څرګندنه –اصطلاح "دور" نه دی. په دې کې کوم خنډ نشته، څه چې زموږ د ساتنې وزله وي؛ نو په عین حال کې موږ هم مکلف یو، چې و یې ساتو. د هغو جامو د مثال په څېر چې ومې وایه. جامې مو له ګرمۍ او یخنۍ ساتي او انسان هم له غلو د خپلو جامو ساتونکی دی. حضرت علي (کرم الله وجهه) دواړو ته اشاره کړې، وایي: ((تقوا وساتئ او هم ځان پرې وساتئ.))

که وپوښتل شو: تقوا زموږ ساتونکې ده که موږ باید تقوا وساتو؟

وایو: دواړه. داسې دي؛ لکه چې ووایو: باید په تقوا ځان الله تعالی ته نژدې کړو یا له الله تعالی باید د تقوا لاس ته راوړنې ته مرسته وغواړو؟ وایو: دواړه؛ باید په تقوا الله تعالی ته نژدې

شو او باید له الله تعالی مرسته وغوښتل شي، چې د لا ډېرې تقوا لاس ته راوړنې لپاره مو بریالي کړي.

حضرت علي (کرم الله وجهه) وایي: ((تاسې ته د الهي تقوا سپارښتنه کوم، تقوا پر اوږو مو الهي حق دی او د هغه حق د ثبوت لامل دی، چې تاسې یې پر الله تعالی لرئ او تقوا ته په رسېدو کې له الله تعالی مرسته وغواړئ او په تقوا الله تعالی ته نژدې شئ.))

په هر حال هغو خطرونو ته باید پاملرنه وکړو، چې د تقوا بنسټونه ځپځپاندوي. په دیني لارښوونو کې هم ګورو، چې تقوا د ډېرو ګناهونو ضامنه او وثیقه پېژندل شوې؛ خو د ځینو نورو ګناهونو پر وړاندې، چې خورا پیاوړی اغېز او جاذبه لري، د حریم نیونې حکم ورکړ شوی دی.

د ساري په ډول: په دیني لارښوونو کې نه دي ویل شوي، چې د غلا یا شراب څښنې له وزلې ګوښوالي حرامه ده. د

ساري په ډول: که د چا په داسې ځای کې شپه وي او که وغواړي- العياذ بالله- شراب وڅښي او هيڅ ظاهري خنډ هم نه وي؛ نو هماغه ايمان او تقوا يې ضامن دی؛ خو د جنسيت په مسله کې، داچې دا ځواک د انسان په وجود کې پياوړی اغېز او لمسونه لري؛ نو دا ضمانت له تقوا لرې کړای شوی دی او حکم شوی، چې په بې عفتۍ کې گوښوالي منع ده؛ ځکه دا هغه خطر دی، چې احيانا دې کلا ته هم ننوځي( که څومره هم غښتلې وي) او ممکن دا کلا سوبه هم کړي.

حافظ شيرازي دې روحي حقيقت ته اشاره کړې ده.

ځواک بـازوی پرهېز بــه خوبــان مفـــــروش

که در ايـن خيل حصـاری به سواری گيرند

په دې بیت کې تقوا او پرهېزګاري کلا ته ورته شوې؛ لکه څرنګه چې د حضرت علي (کرم الله وجهه) په وینا کې همدا ورته والی او تشبیه راغلې وه.

## د تقوا ارزښت او اغېز

سره له دې، چې تقوا د بشر په اخروي ژوند کې څرګندې اغېزې لري او له ابدي پرېشانۍ د ژغورنې یوازېنۍ لار ده، د انسان په دنیوي ژوند کې هم ارزښت او خورا اغېزې لري. حضرت علي (کرم الله وجهه) تر هر چا مخکې په خپلو ښوونو کې د تقوا پر و یې – کلمې ډېره کړې او ډېرې اغېزې یې ورته ویلي دي او کله خو د تقوا ګټو ته هېښنده عمومیت ورکوي او وایي: ((تقوا؛ له هرې پرېشانۍ آزادي او له هرې بدمرغۍ ژغورنه ده.))

بيا وايي: ((تقوا؛ د زړونو د رنځوريو دوا، د بدنونو د رنځونو شفا، د ټټرونو د خرابۍ سموالی او ستاسې د نفسونو پاکوالی دی.))

حضرت علي (کرم الله وجهه) د بشر ټول دردونه يوځای ته راټولوي او ټولو ته تقوا ګټوره ګڼي. که حق ووايو او تقوا ته يوازې منفي او د ډډې اړخ ورنه کړو او هماغسې يې وپېژنو؛ لکه حضرت علي، چې پېژندلې؛ نو بايد منښته - اعتراف وکړو، چې تقوا د ژوند له ارکانو څنې يو دی، ( که وګړيز ژوند وي يا ټولنيز) او که داسې نه وي؛ نو د ژوند بنسټ به ښپښپاندی وي.

د يو ښيز ارزښت هله معلومېږي، چې ووينو بل څه يې ځای نيولای شي که نه. تقوا د ژوند له حقايقو ده؛ داځکه چې بل څه يې ځای نشي نيولای، نه زور، نه پيسې، نه قانون او بل هيڅ ښيز يې هم ځای نشي نيولای.

د ډېرو قوانینو او پرله پسې بدلونونه مو له ورځېنیو بوختیاوو ځنې دي. ځانګړیو موضوعاتو ته قانون وضع کیږي؛ خو بیا هم ګورو، چې موخه ترې لاس ته نه راځي. په قوانینیو کې بدلون او زیاتوالی راولي؛ خو بیا هم موخه لاس ته نه راځي. البته اړنګ – شک نشته، چې قانون هم په خپل ځای کې د ژوند له حقایقو ځنې دی. له ټولیزو الهي قوانینو، چې تېر شو، خلک یو لړ مدني قوانینو ته اړتیا لري؛ خو ایا یوازې د قانون په چاپولو ټولنه سمېدلای شي؟

قانون پولې ټاکي؛ نو ځواک باید پخپله په خلکو کې وي، چې ددې پولو درناوی وکړي او دا هماغه څه دي، چې د تقوا نوم یې ورته ورکړ دی. وایي: باید د قانون درناوی وشي، دا سمه ده؛ خو چې د تقوا د آرونو درناوی ونشي؛ نو د قانون د درناوي خبره کړای شو. څو بېلګې یې دا دي:

نن د طلاق موضوع خورا توده ده، نه غواړم دا ادعا وکړم، چې د طلاق د زیاتېدنې پر لاملونو پوهېږم او ټول به ووایم، بېشکه بېلابېل ټولنیز لاملونه پکې ښکېل دي؛ خو دومره وایم، چې د طلاقونو د زیاتوالي اصلي لامل د تقوا له منځه تلل دي. که په خلکو کې تقوا لږه شوې نه وای او ښځې او سړي خپلسري شوي نه وای؛ نو طلاق به دومره ډېر شوی نه وای. په پخواني ژوند کې هم نیمګړتیاوې وې او تر پخوا هرومرو په نني کورني ژوند کې هم ستونزې ډېرې دي؛ خو پخوا به تقوا ډېری ستونزې هوارولې؛ خو نن مو تقوا له لاسه ورکړې، په دې چې د ژوند وزلې هم ښه شوي؛ خو له لا ډېرو ستونزو سره لاس و ګرېوان یو. ښځو او سړیو ته په زوره د قانوني قیوداتو زیاتوالي، د محکمې په زور، د مجریه قوې په زور او د قوانینو په بدلون د طلاقونو په شمېر کې کموالی نه راځي.

نن ډېرى ټولنيزې ستونزې لرو، چې اندونه يې ځان ته رامات کړي دي. تل ويل کېږي، چې ولې طلاق ډېر شوى؟ ولې وژنه او جنايت ډېر شوى؟ په توکيو کې ولې درغلۍ پيدا شوي دي؟ فحشاء ولې ډېره شوې ده؟

بېشکه د ايمان د ځواک کمزوري او د تقوا د کلا خرابېدل بايد ددې مفاسدو يو مهم لامل وشمېرل شي.

هېښنده خو داده، چې ځينې تل دا "ولې؟" وايي او ليکي، بلخوا داچې دوى خپله تقوا او ايمان نه لري؛ نو پر بېلابېلو اسبابو او لاملونو ددې "ولې؟" جرړې د خلکو په ارواوو کې پوه کوي او خلک د اخلاقي ګډوډيو، د تقوا د ستو او د تقوا خونديينې د منځه وړنې پر لوري بيايي. که ايمان نه وي او – نعوذ با الله- الهي تقوا حقيقت و نه لري؛ نو ممکن يو کسووايي، چې ولې غلا و نه کړم؟ ولې جنايت و نه کړم؟ ولې درغلي و نه کړم؟ ولې؟ ولې؟ ولې؟

## تقوا او روغتيا

حضرت علي (کرم الله وجهه) وايي: ((تقوا مو د بدني رنځوريو شفا ده.))

ښايي وپوښتئ، تقوا چې يو ارواېز او مانيز چار دی، د تن له روغتيا سره څه اړيکه لري؟ البته تقوا څه درمل نه دی؛ خو که تقوا نه وي؛ نو ښه روغتون نشته، ښه ډاکتر نشته، ښه نرس نشته، ښه درمل نشته، که تقوا نه وي، سړی نشي کړای ان د خپل بدن روغتيا هم وساتي. متقي انسان چې پر خپل حق او پولې قانع او خوښ دی؛ نو ډاډمنه اروا، ارام ماغزه او روغ زړه لري، تل په دې اند کې نه وي، چې کوم ځای په بډه کړي او کوم ځای وخوري او کوم ځای ښويې تېر کړي، عصبې پرېشانۍ يې د معدې او کولمو پر تېپ نه اخته کوي، په شهوت کې ښنده-افراط يې کمزوری او نه بېوسی کوي، عمر يې اوږدېږي. د بدن روغتيا او د اروا روغتيا او د ټولنې روغتيا ټول په تقوا پورې اړه لري.

دوه نور غټ مطالب مې درلودل، چې پاتې کيږي، يو يې په رونۍ وينې او د زړه په ليدانه- بصيرت کې د تقوا اغېز دی، قرآن عظيم الشان وايي:

((يِا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إَن تَتَّقُواْ اللّهَ يَجْعَل لَّكُمْ فُرْقَانا وَيُكَفِّرْ عَنكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ وَاللّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ[٢١]= مؤمنانو! که د الله تعالی (د فرمان له مخالفته) ووېرېږئ؛ نو د حق او باطل د بېلوالي وزله به در په برخه کړي (ځانګړې پوهه، چې په رڼا کې به يې حق له باطله وپېژنئ) او ګناهونه به مو لرې کړي او و به مو ببښي او الله تعالی د ستر فضل او بخشش خاوند دی.))

---

[٢١] (انفال/٢٩)

روڼ ويني او د زړه ليدانه د تقوا له مهمو اغېزو څنې دي او ويلی شو، چې همدې مطلب په عرفان کې "سير و سلوک" ته باب پرانستی دی.

د تقوا بله اغېز دا ده، چې خپل درلودونکی له کړاوونو ژغوري. قرآن عظيم الشان وايي:

((يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجا. وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لاَ يَحْتَسِبُ وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ إِنَّ اللَّهَ بَالِغُ أَمْرِهِ قَدْ جَعَلَ اللَّهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرا[22]= او څوك چې [خپل ځان] د الله تعالی له[ عذابه ] وساتي، (الله تعالی) هغه ته (له ستونزو) د وتلو لار پيدا کوي؛ او ورته له داسې ځايه روزي ورکوي، چې گومان يې نه کوي او څوك چې پر الله تعالی توکل وکړي؛ نو الله تعالی ورته بس دی، په حقيقت کې الله تعالی د خپل کار

[22] (طلاق/۲، ۳)

ترسره کوونکی دی، په یقین چې الله تعالی هر څیز ته یوه اندازه ټاکلې ده.))

## د تقوا دوه سترې اغېزې

تقوا دوه سترې اغېزې لري، چې یوه یې روڼ وینې او د زړه لیدانه- بصیرت ده، قرآن عظیم الشان وایي:

((يا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إَن تَتَّقُواْ اللّهَ يَجْعَل لَّكُمْ فُرْقَانا وَيُكَفِّرْ عَنكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ وَاللّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ[23]= مؤمنانو! که د الله تعالی (د فرمان له مخالفته) ووېرېږئ؛ نو د حق او باطل د بېلوالي وزله به در په برخه کړي (ځانګړې پوهه چې په رڼا کې به یې حق له باطله وپېژنئ ) او ګناهونه به مو لرې کړي او و به مو ښني او الله تعالی د ستر فضل او بخشش خاوند دی.))

[23] (انفال/۲۹)

بله اغېز يې د ستونزو هوارېدل دي او له کړاوونو بهر راوتل دي، قرآن عظيم الشان وايي:

((يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجا[٢٤]= او څوك چې [خپل ځان] د الله تعالى له[ عذابه ]وساتي، (الله تعالى) هغه ته (له ستونزو) د وتو لار پيدا کوي؛))

((وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مِنْ أَمْرِهِ يُسْرا (طلاق/۴) = او څوك چې [خپل ځان] د الله تعالى له [عذابه] وساتي، [الله تعالى] د هغه چارې اسانوي.))

## تقوا او روڼ ويني

دا يوازې د قرآن عظيم الشان يو آيت نه دی؛ بلکې دا خپله په اسلام کې ښکاره سول- منطق دی. په نبوي احاديثو او د

---

[٢٤] ( طلاق/۲)

امامانو پهويناوو کې هم پردې مطلب ډېر شوې او لکه چې مې وويل، همدې مطلب په عرفان کې "سير و سلوک" ته باب پرانستی دی.

عارفانو د ((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِذَا تَدَايَنتُم بِدَيْنٍ إِلَى أَجَلٍ مُّسَمًّى[٢٥])) آيت پر روستۍ غونډلې – جملې ((وَاتَّقُواْ اللّهَ وَيُعَلِّمُكُمُ اللّهُ= او (ځانونه مو) د الله تعالى له (عذابه) وساتئ او (په دې توګه) الله تعالى تاسې ته ښوونه کوي)) منګولې لګولي دي.

رسول الله (صلى الله عليه وآله وسلم) وايي: ((له ځاني غوښتنو سره مبارزه وکړئ، چې زړه ته مو حکمت ننوځي.))

---

[٢٥] (بقره/٢٨٢)

نبوي حديث دی: ((الله تعالی ته که څوک څلويښت ورځې ځانګړې کړي؛ نو له زړه به يې پر خولې د حکمت چينې را روانې شي.[۲۶]))

په الميزان تفسير کې يې له اهلسنتو دا حديث رانقل کړی، چې آنحضرت (صلی الله عليه وآله وسلم) وايي: ((لو لا فی تکثير فی کلاکم و تمريج فی قلوبکم لرايتم ما اری و لسمعتم ما سمع))؛ يعنې که په خبرو کې مو زياتوالی نه و او په زړه کې مو بې ځايه ګرځېدنې نه وې؛ نو څه چې وينم، تاسې به هم ليدل او څه چې اورم؛ نو تاسې به هم اورېدل .

د "تمريج" کلمه د "مرج" له مادې ده او د چمن او څړ ځای پر مانا ده، چې معمولا هر ډول څاروی ورتلای شي او پکې ګرځېدای شي. دا وايي، چې ستاسې زړه د هغه بې سر

[۲۶] وګ: (کافی ۱۶/۲، عيون اخبار الرضا ۲۵۸ مخ)

خوږي څه ځای په شان دی، چې هر څاروی پکې ګرځېدای شي.

امام صادق وايي: ((که شیطانان د آدم د زامنو د زړونو په شاوخوا کې نه ګرځېدل؛ نو دوی به د اسمان ملکوت لیدل.))

دا شان ویناوې زموږ په دیني اثارو کې ډېرې دي، چې نېغ په نېغه له ګناه څخه ځان ساتنه او پاکي د اروا په لیدانه- بصیرت او روڼ وینۍ کې اغیزمن دي او یا په غیر مستقیم ډول وايي، چې د ځاني غوښتنو اغېز او د تقوا له لاسه ورکول د اروا په توروالي او د زړه په خړپړتیا او د عقل د رڼا په مړه کېدو کې اغېز لري.

حضرت علي (کرم الله وجهه) وايي: که څوک له يو څيز سره ښنده- مفرطه مينه پيدا کړي؛ نو سترګې يې ورړندوي او زړه يې ورته رنځوروي.[۲۷]

د ځان غوراوی د عقل افت دی.[۲۸]

هيلې د افکارو افت دی.[۲۹]

په اسلامي ښوونو کې دا يو څرګند سول دی، دا سول بيا په اسلامي ادبياتو (که عربي او که پارسي) کې ډېر ګورو.

اديبانو او فضلاوو مو دا حقيقت راختسی او کارولې يې دی او ويلی شو، چې د اسلامي ادبياتو يوه ستنه پر همدې سول ايښوول شوې ده.

---

[۲۷] (نهج البلاغه ۱۰۷ خطبه)

[۲۸] (نهج البلاغه ۲۱۲ حکمت)

[۲۹] (نهج البلاغه ۲۱۹ حکمت)

اوس اړین دي، چې د علمي او فلسفي سول له اړخه هم وېینه وکړو، چې د تقوا او روڼ وینۍ ترمنځ څه اړیکه ده. تقوا، چې یو اخلاقي فضیلت دی او د انسان په کړنلار پورې اړه لري؛ دا څرنګه شونې ده، چې د انسان د عقل او اند په غونډال – دستګاه او ورمندون- قضاوت پر ځواک اغېز ولري او ددې لامل شي، چې انسان د حکمتونو د لاس ته راوړنې جوګه شي، چې د تقوا په نه درلودو ددې حکمتونو په لاس ته راوړنه کې نه بریالی کېږي؟ زه دې مطلب ته ځانګړې پاملرنه لرم او ډېرې باور پرې نه کوي، چې دا مطلب به سم وي او یو ډول تخیل یې ګڼي او یوازې په شعري او خیالي بڼه ورته ګوري.

یاد مې دي، چې څو کاله مخکې مې د توکیزې – مادې فلسفې د یو پلوي لیکنې لوسته، چې پر همدې مطلب یې برید کړی او ملنډې یې پرې وهلې وې. لیکلي یې وو: مګر

تقوا او د نفس مجاهده څه سوان او شگموښی-ریگمال دی، چې د آدم اروا به صیقل کړي او ځلا به ورکړي؟!

## تقوا او عملي حکمت

دا ټکی باید په پیل کې ووایم، هغه حکمت، چې په څرگندنه-اصطلاح د تقوا زیږنده دی او هغه روڼ ویني، چې د تقوا له کبله راپیدا کیږي؛ نو عملي حکمت دی؛ نه نظري.

حکیمان عقل په دوو برخو ویشي: نظري عقل او عملي عقل. البته موخه دا نه ده، چې په هر چا کې دوه عاقل ځواکونه دي؛ بلکې موخه دا ده، چې د انسان عاقله ځواک دوه ډوله فکري محصول لري، چې له بېخه سره اړپیچ-اختلاف لري: الواکي-نظري اندونه او عملي اندونه.

دلته وخت نشته، چې پردې فلسفي وییني خبرې وکړم او د نظري او عملي اندو توپیر ووایم؛ ځکه که پردې ویینه خبرې وشي له یوې ویناوالۍ ډېر وخت ته اړتیا لري. لنډ یې وایم،

چې الواکي –نظري عقل هغه دی، چې د طبيعي پوهنو بنسټ دی؛ لکه رياضي او الهي فلسفه. دا پوهنې ټول په دې کې سره ګډې دي، چې په دې پوهنو کې د عقل کار د واقعيتونو په هکله ورمندون- قضاوت دی، چې پلاني څيز داسې او پلانی هغسې دی؟ پلانۍ اغېز او پلانۍ ځانګړنه لري که نه؟ ايا پلانۍ مانا حقيقت لري که نه؟

خو عملي عقل هغه دی، چې د ژوند د پوهنو بنسټ دی، د اخلاقي آرونو بنسټ دی او د پخوانيو په وينا، د اخلاقو او د تدبير منزل پوهه او سياست مُدُن دی. په عملي عقل کې د ورمندون- قضاوت وړ څيز، له واقعيتونو څنې يو واقعيت نه دی، چې ايا داسې دی که هغسې؟ د ورمندون وړ- څيز، دنده او مکلفيت دی: ايا دا کار "بايد" وکړم که هغه کار؟ داسې عمل وکړم که هغسې؟ عملي عقل هماغه دی، چې د ښه او بد، حسن و قبح، بايد او نه بايد او د امر او منع مفهوم زېږوي.

هغه لار چې انسان يې په ژوند کې ټاکي، په کاردود- د کار کړنلار او عملي عقلي ورمند دود- د قضاوت طريقې پورې يې اړه لري او نېغ په نېغه په کاردود او د الواکي عقل په ورمند دود پورې يې اړه نه لري.

داچې په ديني اثارو کې راغلي، چې تقوا عقل روښانوي او انسان ته د حکمت درېڅه پرانځي- لکه څرنګه، چې پخپله لحن يې هم راښيي- ټول په عملي عقل پورې اړه لري؛ يعنې د تقوا له کبله انسان خپل درد او درمل او هغه لار ښه پېژني، چې په ژوند کې يې بايد وټاکي او دا په الواکي- نظري عقل پورې اړه نه لري؛ يعنې موخه دا نه ده، چې تقوا په الواکي عقل کې اغېز لري او که سړی تقوا لري؛ نو غوره ده، چې پر رياضي او طبيعي درسونو پوه شي او ددې پوهنو ستونزې هوارې کړي. ان په الهي فلسفه کې هم همدا شان ده، تر کومه، چې فلسفي اړخ لري او سرو کار يې له سول او استدلال سره دی او انسان غواړي پر استدلال قدم واخلي او

په اند کې سریزې اډونوي – ترتیبوي، چې پایلې ته ورسي. د ربوبي ښوونو په بل ډول کې، تقوا، پاکي او هڅې اغېز لري؛ خو هلته نظري عقل، فلسفه، استدلال، سول، د سریزو اوډنه او اندیز سلوک، له پایلې، سرېزې ته او له سریزې، پایلې ته نشته.

موخه دا ده: دا حقیقت، چې بیان شو، چې تقوا د حکمت، لیدانې او روڼ وینې د زیاتوالي لامل گرځي؛ نو موخه ترې نظري مسایل او نظري عقل نه دی. ځینو ته چې ددې مطلب منل دومره ستونزمن دي، ښایي لامل یې دا وي، چې دې مطلب ته یې د نظري عقل په پولو کې پراختیا ورکړې وي.

د عملي عقل پر وړاندې هم مطلب همداشان دی او ویلی شو، چې تر هر استدلال مخکې، تجربه ددې مطلب شاهده ده. واقعا تقوا، پاکي او د اماره نفس اېلول، د عقل په روڼ وینې کې اغېزمن دي؛ خو البته نه په دې مانا، چې عقل فی

المثل د څراغ په شان دی او تقوا ددې څراغ د تېلو په شان او یا داچې د عقل غونډال- دستگاه د روښنایۍ د مولد د کارخانې په څېر ده، چې اوسمهال دومره کیلوواټه برښنا ورکوي او تقوا، چې راغله؛ نو دد کارخانې د برښنا دومره کېلو واټه برښنا به زیاته کړي.

نه! داسې نه ده؛ بلکې بل شان ده، څرگندونې ته یې یوه سریزه وایم.

## د عقل د دښمنانو دښمن

حضرت علي (کرم الله وجهه) وايي: دوستان دې درې ډوله دي او دښمنان دې هم:

الف-دوستان دې: (۱) دوست دې. (۲) د دوست دوست دې (۳) او د دښمن دښمن دې.

ب_دښمنان دي: (۱) دښمن دې (۲) د دوست دښمن دې (۳) د دښمن دوست دې.

له دې وينا ليږد – نقل قول مې موخه دا وه، چې د د ښمن دښمن هم له دوستانو څنې دی. داچې د دښمن دښمن ته دوست په شان ليدل کيږي؛ نو لامل يې دا دی، چې دښمن کمزوری کوي او لاسونه يې ورتړي او له دې لارې له انسان سره مرسته کوي. دا خپله يوه قاعده ده، چې د دښمن دښمن د دوست په څېر دی او سړی پياوړی کوي.

دا قاعده په وګړيو کې روانه ده او همداراز د انسان په حالاتو او مانيزو قواوو کې هم روانه ده. د انسان مانيز ځواکونه پر يو بل اغېز کوي او احيانا مخالف اغېز لري او يو د بل اغېز خنثی کوي. په دې مطلب کې د نمښتې –انکار ځای نشته. د انسان په وجود کې د بېلابېلو ځواکونو ترمنځ ټکر ته څه نا څه پاملرنه شوې او دا خپله اوږد داستان لري.

## په روڼ وینې کې د تقوا د اغېزې خوالې

د ځاني غوښتنو سرکښي، تمې او له تعصب او ځېله ډکې ننګېرنې – احساسات هغه حالات او ځواکونه دي، چې د انسان په عملي عقل؛ يعنې د انسان په عملي اندود کې اغېز لري، چې د ښه او بد، خير او شر، سم او ناسم، اړين او نا اړين، دنده او مکلفيت او داچې اوس څه وکړم او څه ونه کړم، اغېز لري د انسان د عملي عقل سيمه او برخه په دې دليل، چې د انسان په عمل پورې اړه لري، هماغه د ننګېرنو، لېوالتياوو او شهوتونو سيمه او برخه ده. دا چارې که د اعتدال له پولې ووتې او انسان يې محکوم شو او پرې حاکم نشو؛ نو د عقل پر وړاندې ودرېږي، د عقل او وجدان د غږ پر وړاندې شورماشور او چغې سورې کوي، د عقل غږ ته پرازيت کېږي او انسان نور د خپل عقل غږ نه اوري، د عقل د څراغ پر وړاندې لوګړن او دوړن حالت رامنځ ته کوي او عقل نشي

کړای رڼا خپره کړي. مثال يې داسې دی، چې موږ په دې تشيال کې ناست يو او خبرې کوو، اورو او وينو؛ نو راښيي، چې يو تن خبرې کوي او نور چوپ ناست دي، څراغونه رڼا ورکوي او تشيال هم رڼه او پاکه ده؛ خو که په همدې تشيال کې که هر څوک خبرې پيل کړي او په لوړ غږ سندرې هم ووايي؛ نو څرګنده ده، چې ان ويانده به هم خپل غږ وانه وري او که همدا تشيال لوغړنه شي؛ نو څوک به يو بل و نه ويني.

شاعر وايي:

حقـــيقت ســرايي است اراســـته

هـــٍــــوا و هـــوس گرد برخاسته

نبــينی که هر جـا که برخاست گرد

نبـــيند نظـــر گر چه بيناســت مرد

بل شاعر وايي:

جمال یار ندارد نقاب و پرده ولــی

غبار ره بنشان تا نظر تـــوانی کرد

بل شاعر وايي:

چون غرض امد هنـــــر پوشیده شد

صد حجاب از دل به سوی دیده شــد

د ساري په ډول: يو ځوان زدکړيال په پام کې ونيسئ، چې له ښوونځي راستون شوی او فکر کوي، چې بايد خپل لوست ووايي؛ نو دې کار ته ډېر کېني او سبق وايي؛ ښکاره ده که په دې اړه ناغېړي وکړي؛ نو پايله به يې ناکامي، ناپوه پاتېدل او په زرگونو نورې بدمرغۍ دي. دا يې د عقل غږ دی. ددې غږ پر وړاندې ممکن، چې د شهوت، عياشۍ او گرځېدنې غږ هم راپورته شي او ارام يې پرېښږدي. ځرگند ده

که غبرونه ډېر وي؛ نو دې ځوان به د خپل عقل غږ نه وي اورېدلی او د فطرت څراغ ته یې پاملرنه نه ده کړې او له ځان سره وایي، راځه چې اوس خوشحاله وسو، نورو سره به بیا ګورو.

نو داسې ځاني غوښتنې که په انسان کې وي؛ نو د عقل اغېز کمرزوری او خنثی کوي او په بله وینا: دا ځاني غوښتنې د انسان له عقل سره دښمني کوي.

رسول الله وایي: ((ستا تر ټولو ستر دښمن ستا اماره نفس او ستا سرکښې ننګېرنې-احساسات دي، چې تر ټولو درته نږدې دي او د دوو اړخونو ترمنځ دې دي.[30]))

[30] وګ: بحار الانوار ۷۰/ ۶۴.

داچې دا دښمن تر ټولو ستر دښمن دی؛ نو لامل يې څرګند دی؛ ځکه چې د عقل دښمن دی او عقل د انسان خورا ښه دوست دی.

رسول الله وايي: ((د هر چا عقل يې واقعي دوست دی[٣١].))

امام صادق وايي: ځاني غوښتنې د عقل دښمن دي[٣٢].

حضرت علي (کرم الله وجهه) وايي: د عقل له کينه کښنو يو (هم) د ځان غوراوی دی[٣٣].

حضرت علي (کرم الله وجهه) وايي: افکار د هيلو تر څريکو لاندې دل ولېږي[٣٤].

---

[٣١] وګ: بحار الانوار ١ / ٨٧.

[٣٢] وګ: مصباح الشريعه ٣٨/ ٢٣٣.

[٣٣] وګ: (نهج البلاغه ٢١٢ حکمت)

[٣٤] وګ: نهج البلاغه ٢١٩ حکمت.

[ ژباړن = پښتون شاعر وايي:

هيڅ د دښمنانو حاجت نشته دی دا دښمني لږه ده، چې ځان لرم ]

له هر دښمنه د عقل په ځواک دفاع کړای شو. که داسې دښمن راپيدا شي، چې عقل غلا کړي؛ نو دا به تر ټولو خطرناکه وي.

صايب تبريزي يو شعر وايي، چې د هماغه حديث ژباړه ده:

بستر راحت چه اندازيم بهر خواب خوش

ما که چون دل دشمني داريم در پهلوی خويش

نو دې مطلب ته پاملرنه ضروري ده، چې د انسان مانيز حالات او ځواک له دې، چې ځينې يې يو له بل سره ټکر لري؛ نو يو پر بل مخالف اغېز کوي او تقريبا يو د بل اغېزې

خنثی کوي یا په بله وینا یو له بل سره دښمني او حسادت کوي، چې له عقل سره د ځاني غوښتنو دښمنې له دې ځنې ده.

له همدې ځایه د عقل په پیاوړتیا او د لیدانې او روڼ وینۍ په زیاتوالي کې د تقوا د مانا اغېز روښانېږي. تقوا نه سوان دی، نه شگموښی-ریگمال او نه د څراغ تیل. تقوا د عقل د دښمن دښمنه ده، د دوستانو هغه درېیم ډول، چې حضرت علي (کرم الله وجهه) وایي: دوستان دې: (۱) دوست دې. (۲) د دوست دوست دې (۳) او د دښمن دښمن دې.

نو تقوا ځاني غوښتنې اېلوي، چې د عقل دښمنې دی او نور نه پرېږدي، چې د عقل اغېز خنثی کړي، لوغړن او دوړن حالت ورته رامنځ ته کړي، پرازیت ورته رامنځ ته کړي.

مولانا جلال الدین بلخي وایي:

حســــــها او انـــــديشــه بر اب صــــــفا

همـــــچو خـــس بگـــرفتـــــــه روی اب را

خـــس بس انبه بود برجو چون حبـــاب

خـس چو یکسو رفت پیدا گشت اب

چون کـه تقـوا بـــست دو دســـت هـــوا

حـــق گـــشاید هـــر دو دســـت عقل را

نو جوته شوه، چې تقوا د انسان په انددود او ورمنددود کې واقعا اغېز لري؛ خو د اغېزې ډول يې دا دی، چې د دښمن له اغېزې مخنيوی کوي او له دې لارې د عقل لاس پرانځي او آزادي ورکوي: ((عتق من كل ملكة)). حكما دې ډول عاملونو ته فاعل بالعرض وايي، چې په غير مستقيم ډول اغېز

کوي. وايي: فاعل، يا بالذات دی يا بالعرض. فاعل بالذات هغه دی، چې اغېز ترې خپله نېغ په نېغ راولاړ شوی وي او فاعل بالعرض هغه دی، چې اغېز د بل څيز زېږنده وي او ددې لامل کار بل څه وي، مثال يې داسې دی؛ لکه خندا يې چې هاخوا کړی وي او همداچې خندا هاخوا شو؛ نو دا لامل بله اغېز توليدوي؛ خو بشر همدا بسيا گڼي، چې هغه اغېز د خندا له دې منځه وړونکي لامل سره هم وتړي.

که انسان په هر څيز کې اړنگ وکړي؛ خو په دې کې يې نشي کړای، چې غوسه، شهوت، تمه، کينه، ځېل، تعصب، ځانمني او دا شان چارې، په ژوند کې انسان کوڼ او ړندوي. انسان د هوس پر وړاندې کوڼ او ړوند دی. ايا په دې کې اړنگ کړای شو، چې د بشر له عادي او معمولي حالاتو ځينې يو يې دا دی، چې خپل عيب نهويني او په نورو کې يې ويني او حال دا خپله تر نورو ډېر پرې ککړ دی؟ د خپل عيب پر وړاندې ددې ناليدی لامل، بې له ځانمنی او ځان خوښی بل

څه کېدای شي؟ په دې کې شک شته، متقیان، چې اخلاقي هڅې کوي او پر خپلې ځانمنۍ او نورو نفساني رذایلو لاسبري دي؛ نو خپل عیب او درد روښانه او غوره درک کوي؟ انسان ته تردې بل ګټور حکمت او علم شته، چې ځان، خپل عیب او ورته د سمونې لار وپېژني؟

که مو توفیق تر لاسه کړ، چې د تقوا پر ځواک خپل اماره نفس اېل کړو؛ نو هله به ووینو، چې څومره ښه د نېمکړغۍ لار درک کوو او څومره ښه پوهېږو او څومره روښانه وینو او څومره ښه راته عقل الهاموي. هغه وخت به پوه شو، چې دا مسایل څه دومره کړکېچن نه دي او استدلال ته هم اړتیا نه لري او خورا څرګند او روښانه دي او یوازې چغو او پرازیتونو نه پرېښودو، چې موږ د خپل عقل ښوونه واورو.

## ایا هوښ او عقل توپیر لري؟

لیدل کېږي، چې ځینې وګړي په علمي چارو کې ډېر ځیرک او ویښیار دي او تر نورو مخکې دي؛ خو همدا وګړي د ژوند په چار کې او په هغه لار کې حیران دي، چې باید و یې ټاکي. هغه وګړي، چې په پوهه کې یې ویښیارتیا تر دوی ډېره روسته پاتې ده؛ نو د ژوند ګټې په غوره او روښانه بڼه ویني؛ ځکه دا اند رامنځ ته شوی، چې په انسان کې دوه ځېزونه دي: یو ویښیارتیا او بل عقل، ځینې باهوشه دي او ځینې باعقله دي.

خو حقیقت دا دی، چې موږ د ویښیارتیا او عقل په نامه دوه ځواکه نه لرو. ویښیار وګړي، چې په پوهنیزو چارو کې حیران دي؛ نولامل یې هماغه دی، چې وویل شو: د عقل د دښمنانو د سرکښۍ له امله یې د عقل اغېزه خنثی شوې او پرازیتونه یې نه پرېږدي، چې د خپل عقل خبره واوري. د داسې وګړیو د وجود پرازیتونه ډېر دي؛ نه داچې عقل یې لږ دی.

د خبرو په پیل کې مې وویل: څه چې په الواکي عقل پورې اړه لري؛ نو تقوا، اخلاقي هڅه- مجاهده او د اروا پاکوالی پکې څه اغېز نه لري. ان الهي فلسفه هم په دې اخلاقي مانا پورې اړه نه لري او دې ته مې اشاره وکړه، چې په عین حال کې تقوا او اخلاقي هڅه ده پر بل ډول د الهي ښوونو په لاس ته راوړنه کې اغېزمنه ده. دا مطلب خپلواکې وینې ته اړتیا لري.

له پخوا راهیسې هوښیاران دې ټکي ته رسېدلي، چې په انسان کې پر ټولو عقلاني او ادراکي ځواکونو سربېره یو بل پټ حس هم شته، چې پرې د الهام اخستنې د حس نوم ایښوولای شو. ننني پوهې هم سوکه سوکه دا نظر تاییدوي او وایي، چې په انسان کې یو اصیل حس دی، چې تر هر ځواک او حس خپلواک دی. دا حس هم لږ و ډېر په ټولو وګړیو کې د اړپېچ، کمزورۍ او شدت په بڼه شته او د انسان

د نورو حسونو په څېر د ودې او روزنې وړ دی. اوس باید ولیدل شي، چې په انسان کې څه څیز دې حس ته وده ورکوي او روزي يې؟

تقوا، پاکوالی، اخلاقي هڅې او له ځاني غوښتونو سره مبارزه دې حس ته وده ورکوي. د دین د سول – منطق له مخې، دا نانتهی – غیر قابل انکار چار دی.

حضرت علي (کرم الله وجهه) وايي: ((عقل ځان ويښ کړی او اماره نفس يې وژلی دی، تردې، چې د هڅې اغېز يې پر بدن ښکاره شوی او هډوکي ورته نازک کړي او د وجود پنډوالی يې ورته نرم کړی دی. په دې وخت کې پرې سخته برښنا راځي او لار ورته ښيي او تل له دې وره هغې ته او له

دې پړاوه يې هغه بل ته خوځوي، چې داسې ځای ته رسي، چې د مطلقې روغتيا ور دی.[35]))

((يَهْدِي بِهِ اللّهُ مَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَهُ سُبُلَ السَّلاَمِ وَيُخْرِجُهُم مِّنِ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ بِإِذْنِهِ وَيَهْدِيهِمْ إِلَى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ[36]= او الله تعالی د هغه په برکت هغو خلکو ته د سلامتيا لارې ښيي، چې په رضا پسې يې ځي او په خپل امر هغوی له تيارو رڼا ته راباسي او سمه لار ورښيي.))

## تقوا او د احساساتو تلطيف

تقوا او پاکوالی په بله برخه کې هم اغېز لري او هغه د عواطفو او ننګېرنو-احساساتو برخه ده، چې ننګېرنې لطيف او نرموي.

[35] وګ: (نهج البلاغه ۲۱۸ خطبه)

[36] (مايده/۱٦)

متقي وګړي چې له چټليو، ناوړه چارو، ريا اوغوړه مالۍ يې ځان لرې ساتلی وي او خپل وجدان يې پاک ساتلی وي، خپل پت، برم او ازادي يې خوندي ساتلې او پام يې مانا ته و؛ نه مادې ته؛ نو ننګېرنې- احساسات يې له هغه سره توپير لري، چې د فحشاوو، ماديات‌و او ناوړه چارو په ډنډ کې ډوب وي او مسلما ننګېرنې يې سترې او خورا نازکې او خورا لطيفې دي او د مانيزو ښکلاوو پر وړاندې يې اغېزتيا ډېره ده، نړۍ بل شان او پر بله ښکلاويني او هغه عقلي ښکلا ښه حسوي، چې په نړۍ کې ده.

کله دا مسله هم راوړاندې کېږي، چې ولې د پخوا په څېر شاعران نه پيدا کېږي؟ هغه لطف او نرمي، چې د شيخ سعدي او حافظ شيرازي په ويناوو کې وه؛ نن نه پيدا کېږي؟ حال دا هر څه پرمختګ کړی دی، پوهه مخکې تللې او اندونو پرمختګ کړی او نړۍ له هر اړخه پرمختګ کړی دی.

که پر معاصرو شاعرانو بده و نه لگي؛ نو گروهن یم، چې ددې چار لامل یو څیز دی او هغه داچې له طبیعي ذوق او پر اندیزې زېږند واک سربېره په وجدان کې نرمي، لطافت او حساسیت هم اړین دی، چې دا هله پیدا کېږي، چې څوک تقوا او مانیزتوب ته ډېره پاملرنه وکړي او د غوسې او شهوت بنده نه وي او آزادي ولري.

## تقوا او پر سختیو د بریا ځواک

((وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجا[37] =او څوك چې [خپل ځان] د الله تعالى له[ عذابه ] وساتي، (الله تعالى) هغه ته (له ستونزو) د وتو لار پيدا كوي.))

((وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مِنْ أَمْرِهِ يُسْرا[38] =او څوك چې [خپل ځان] د الله تعالى له [عذابه] وساتي، [الله تعالى] د هغه چارې اسانوي.))

حضرت علي (كرم الله وجهه) وايي: ((څوک چې پر تقوا منگولې ښخې کړي؛ نو چې سختۍ او ستونزې ورته رانږدې شوې، ترې لرې كيږي او ترخې چارې ورته خوږيږي کړاوونه ترې مخ اړوي او ستونزمن کارونه ورته اسانيږي.[39]))

---

[37] (طلاق/۲)

[38] (طلاق/۴)

[39] (نهج البلاغه ۱۹۶ خطبه)

پوښتنه رامنځ ته کېږي: تقوا، چې ارواېزه او اخلاقي ځانګړنه ده؛ نو پر ستونزو او سختیو له لاسبرۍ سره یې څه اړیکه ده؟

## دوه ډوله سختۍ او ستونزې

د سریزې په ډول یې ووایم: سختۍ او ستونزې دوه ډوله دي، چې انسان ته راپېښېږي او پرې ککړېږي:

یو هغه ډول دي، چې د انسان اراده او اختیار پکې ښکېل نه ده او مثال یې داسې دی؛ لکه یو انسان، چې په الوتکه کې سور شي او الوتکه خرابه شي او یا داچې په بېړۍ کې سور شي او سمندر توپاني شي او د ډوبېدو احتمال یې وي. بې له دې، چې د وړاندوینې وړ وي او د انسان اراده پکې ښکېل وي، داسې کړاوونه ممکن هر چا ته پېښ شي.

بل ډول کړاوونه هغه دي، چې د انسان اراده او اختیار پکې ښکېل وي، چې ورننوځي که نه او که ورننوځي؛ نو څرنګه به ترې راوځي یا په بله وینا: اخلاقي او ټولنیز کړاوونه.

نو دلته دوې مسلې رامنځ ته کېږي: یو یې له لومړي ډول کړاوونو د انسان په ژغورنه کې د تقوا اغېز ده او بل له دویم ډول کړاوونو د انسان په ژغورنه کې د تقوا اغېز ده.

د لومړي ډول په اړه زه اوس څرګندونه نه کوم، چې د قرآن عظیم الشان بیان له دې ډول کړاوونو د ژغورنې په هکله دی که نه دی. البته څه مانع نشته، چې داشان قانون په نړۍ کې وي او یو ډول الهي ضمانت وي؛ لکه د دعا قبلېدل. په نهج البلاغه کې داسې غونډله- جمله ده، چې ددې مطلب د تفسیر په بڼه یې ګڼلی شو، چې موخه له دویم ډول کړاوونو ژغورنه ده.

حضرت علي (کرم الله وجهه) وايي: ((پوه شئ، څوک چې الهي تقوا ولري؛ نو الله تعالی ورته له فتنو د وتو لار او د تپو تيارو پر ځای رڼا ورکوي.))[٤٠]

فتنې هماغه اخلاقي او ټولنيز کړاوونه دي. لومړي ډول کړاوونه "نادرالوجود" دي. غټ کړاوونه او سختۍ، چې انسان ته راپېښېږي او هر ډول دنيوي او اخروي نېکمرغۍ ترې اخلي؛ نو همدا اخلاقي او ټولنيز کړاوونه دي. دې ته په پامنيوي، چې د هر چا د ډېرى کړاوونو جرړه پخپله هماغه دى او هر څوک د ځان تر ټولو ستر دښمن دی. هر څوک د ځان برخليک پخپله ټاکي. له ځان سره د هر چا غالب چلنونه دښمنانه دي.

---

٤٠ وګ: (نهج البلاغه ١٨١ خطبه)

ډېرى کړاوونه، چې راپېښېږي، له بهره نه دي راغلي او خپله مو ځان ته جوړ کړي دي. ما خپله په ژوند کې او د نورو په ژوند کې، تجربه کړي، چې همداسې ده. دې ته په پامنيوي، ښه څرګنديږي، چې له فتنو په لرې ساتلو کې د تقوا وسله څومره اغېزمنه ده او که فرض کړو، چې فتنه هم ورپېښه شي؛ نو تقوا يې ژغوري. قرآن کريم وايي:

((إِنَّ الَّذِينَ اتَّقَواْ إِذَا مَسَّهُمْ طَائِفٌ مِّنَ الشَّيْطَانِ تَذَكَّرُواْ فَإِذَا هُم مُّبْصِرُونَ[٤١]= په رښتيا له پرهېزګارانو سره، چې د شيطان وسوسه پيدا شي (؛ نوسملاسي الله تعالی او دهغه مکافات او مجازات) رايادوي او(په رڼا کې يې د حق لارويني او) ناڅاپه "ليد" مومي.))

په همدې دليل، چې تقوا لومړی اغېز لري؛ يعنې روڼ ويني او د ليدانې- بصيرت زياتوالی؛ نو دويم اغېز هم لري؛ يعنې

---

٤١ (اعراف/٢٠١)

له کړاوونو او سختيو څخه ژغورنه. کړاوونه او ستونزې په تيارو کې پيدا کيږي، د ګناهونو او ځاني غوښتونو په تيارو کې. چې د تقوا رڼا پيدا شي او لار له څاه څخه وپيژندل شي؛ نو انسان به لږ پر کړاو اخته شي او که اخته هم شي؛ نو د تقوا په رڼا کې به ترې ښه د وتو لار و مومي.

له دې ټولو، چې تېر شو تقوا او ځان ساتنه ددې لامليږي، چې انسان د خپل وجود زېرمه ځواکونه پر حرامو لارو تويې نه کړي او تل زېرمه ځواک ولري. څرګنده ده، چې ځواکمن، هوډمن او با شخصيته انسان ښه هوډ کړای شي او ښه هم ځان ژغورلای شي؛ لکه څرنګه چې رڼا د ژغورنې وزله او لار ده؛ نو واک او ځواک درلودل هم يوه لار او وزله ده، چې الله تعالی ايښې ده.

د حضرت يوسف (عليه السلام) په سورت کې يو آيت دی، چې د همدې داستان پايله ده. د حضرت يوسف (عليه

السلام) داستان به مو اوربدلی وي. چې داستان پای ته رسي؛ يعنې تردې روسته، چې حضرت يوسف (عليه السلام) د "مصر" عزيز شي او رونه يې د سوکړې-قحطۍ له کبله، د غلې دانې لاس ته راوړنې ته له "کنعان" څخه مصر ته راځي او دوی حضرت يوسف (عليه السلام) نه پېژني؛ خو حضرت يوسف (عليه السلام) دوی ټول وپېژندل او بيا په يوه پلمه حضرت يوسف (عليه السلام) خپل سکه رور؛ "بنيامن" له ځان سره ايساروي او رونه يې دويم ځل حضرت يوسف (عليه السلام) ته راځي او په سوال او زارۍ ترې غلې دانې غواړي او قرآن کريم د سوال او زارۍ دا پېښه څومره ښه انځور کړې ده:

((يَا أَيُّهَا الْعَزِيزُ مَسَّنَا وَأَهْلَنَا الضُّرُّ وَجِئْنَا بِبِضَاعَةٍ مُّزْجَاةٍ فَأَوْفِ لَنَا الْكَيْلَ وَتَصَدَّقْ عَلَيْنَآ إِنَّ اللّهَ يَجْزِي الْمُتَصَدِّقِينَ))[٤٢]= عزيزه!

---

[٤٢] (يوسف/٨٨)

موږ او کورنۍ مو په (سختو) ستونزو اخته ده او له ځان سره مو ناڅېزه پانگه راوړې ده، ته پرې موږ ته پوره پیمانه راکړه او خیرات راباندې وکړه، چې الله تعالی خیرات ورکوونکیو ته بدله ورکوي.))

حضرت یوسف (علیه السلام) تردې وخته ځان نه ته و ورښوولی او په دې وخت کې یې ځان ور وښود:

((قَالَ هَلْ عَلِمْتُم مَّا فَعَلْتُم بِيُوسُفَ وَأَخِيهِ إِذْ أَنتُمْ جَاهِلُونَ[٤٣]=

(یوسف) وویل: ((ایا پوه شوئ، چې تاسې د ناپوهۍ پر وخت (او ځوانۍ کې) له یوسف او رور سره یې څه وکړل؟))

((قَالُواْ أَإِنَّكَ لأَنتَ يُوسُفُ قَالَ أَنَاْ يُوسُفُ وَهَذَا أَخِي قَدْ مَنَّ اللّهُ عَلَيْنَا إِنَّهُ مَن يَتَّقِ وَيِصْبِرْ فَإِنَّ اللّهَ لاَ يُضِيعُ أَجْرَ

---

[٤٣] (یوسف/٨٩)

الْمُحْسِنِينَ[٤٤]= هغوی وویل:"ایا ته هماغه یوسف یې؟"ویې وویل:"(هو) زه یوسف یم او دا زما رور دی، الله تعالی پر موږ احسان وکړ او څوك چې له تقوی او صبره كار واخلي (؛ نو په پای كې بریالي كېږي؛ ) ځكه الله تعالی د نېكانو بدله نه لاهو كوي.))

دا څه چې تاسې وینئ د تقوا پایله ده، مریی شوم او د ده او هغه تر لاس لاندې شوم؛ خو تقوا مې وساتله. كار مې تردې ځایه راورسېد، چې د "مصر" تر ټولو ښكلې ښځې ځان ته راوبللم؛ خو ځان مې وساته.

((قَالَ رَبِّ السِّجْنُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا يَدْعُونَنِي إِلَيْهِ (یوسف/۳۳)=((زما پالونكیه! دوی چې ما څه ته رابولي، له هغه خو راته زندان ډېر ښه دی.))

---

[٤٤] (یوسف/٩٠)

د هغه ورځې تقوا، زه نن د مصر عزيز کړم.

تقوا، صبر او پاکوالی په نړۍ کې نه ورکيږي او سړی له پرېوتي ذلته د پت هڅکې څوکې ته رسوي. ((إِنَّهُ مَن يَتَّقِ وَيِصْبِرْ فَإِنَّ اللّهَ لاَ يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ))

داسې ده؛ لکه چې قرآن عظيم الشان د حضرت يوسف د داستان پايله په دې غونډله- جمله کې غورچاڼ کړېې: "عاقبت له تقوا سره دی".

تقوا، انسان له کړاوونو او ستونزو ژغوري او د برم هڅکې څوکې ته يې رسوي.

((وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجا[٤٥]=او څوك چې [خپل ځان] د الله تعالی له[ عذابه ] وساتي، (الله تعالی) هغه ته (له ستونزو) د وتو لار پيدا کوي.))

چې امام حسين خپلې کورنۍ ته وينا کوي، پر څه ډاډ او ايمان ورته خبرې کوي؛ نو خبرې يې انسان هک پکوي. دا څرنگه ايمان او ډاډ دی او له کوم ځايه يې اخستی و؟ راغلي، چې امام حسين په دويم ځل له خپلې کورنۍ سره الله تعالی په اماني وکړه، و يې ويل: ((ستونزو زغملو ته چمتو وسئ او پوه شئ، چې الله تعالی به مو وساتي او ملاتړ به مو شي، و به مو وژغوري او د کار پای به مو نېکه کړي او دښمنان به مو پر ډول ډول عذابونو ككړ كړي او تاسې ته به ددې کړاوونو پر وړاندې ډول ډول نعمتونه درکړي، هسې نه چې گيله

[٤٥] (طلاق/٢)

وکړئ او پر خوله مو داسې څه راشي، چې ارزښت مو راټیټ کړي.[46]))

له نهايي پايلې، چې امام حسين کوم ډاډ درلود؛ نو خپلې کورنۍ ته يې تلقين کړ او دا له هغې آيته سرچينه اخلي، چې وايي:

((وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجا[47]=او څوك چې [خپل ځان] د الله تعالی له[ عذابه ] وساتي، (الله تعالی) هغه ته (له ستونزو)د وتو لار پيدا کوي.))

امام حسين دا تضمين له قرآنه اخستی و، هغه ډاډ، چې رښتيني يوسف (عليه السلام) درلود، چې د تقوا پايلې ته ورسېد؛ نو حضرت يوسف (عليه السلام) په خوښۍ وويل: ((إِنَّهُ مَن يَتَّقِ وَيِصْبِرْ فَإِنَّ اللّهَ لاَ يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ))؛ خو

[46] وګ: نفس المهموم ۳۵۵او ۴۴۵ مخونه.

[47] (طلاق/۲)

امام حسین، مخکې تردې، چې د داستان پای ته ورسي او پایلې ته ورسي؛ نو پایله یې لیده.

د امام حسین خبرې د کورنۍ پر زړه لکه د غشي کېناستې، سختۍ او بندونه یې وزغمل؛ خو د صبر او تقوا تر سیوري لاندې. د کار پایله یې هماغسې شوه؛ لکه څرنګه چې امام حسین ورسره ژمنه کړې وه او الله تعالی په قرآن عظیم الشان کې تضمین کړې وه. تر لږې مودې روسته ګورو، چې حضرت زینب د امام حسین همدا غونډلې پر نورو الفاظو او پر یوه نړۍ ډاډ نړۍ ته وایي او یزید بن معاویه ته یې مخه کړه، و یې ویل:

((هره ټګي، چې کوې، و یې کړه او څه چې دې زړه غواړي، و یې کړه؛ خو پر الله تعالی قسم و به نشې کړای نوم، محبوبیت او درناوی مو له منځه یوسې او نشې کړای هغه ژوندۍ وحې مړه کړې، چې زموږ په کور کې پیدا شوې ده.

تا ته په دې نړۍ کې بې له ننګ او رسوايۍ بل څه نه دي پاتې.))